چمتو والي کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

# د طبيعت رنګونه



**ليکوال:** بلبل شرما

**انځورګر:** بلبل شرما

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Bunty and Bubbly (Pashto), Colors of Nature, Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



زه یو آسماني رنګه پتنګ ( butterfly) ګورم چې په خپلو وزرونو مخه ښه کوي



زه یوه ژېړه د شاتو مچۍ ګورم چې له یوې پیالې څخه چای څښي



زه په يو پتنوس کې يو سور کب ګورم



زه یوه چیندخه ګورم چې له یوه پاڼي سره لوبې کوي



زه یوه نارنجي هیلۍ ګورم چې ما ته د نېکمرغۍ دعا کوي



زه يو بنفشه يي ګل ګورم چې له يوه چينجي سره نثا کوي




زه یوه برګه پیشو ګورم چې یوه نارنجي خولۍ يې په سر ده



زه يو خړ او نسواري موږک ګورم چې په يو ګلابي کور کې پټ دی



زه يو سور او تور ګيدړ ګورم چې ارغواني جورابې يې په پښو دي



زه یو شین ملخ ګورم چې توره او سپینه ورځپاڼه لولي



زه یوه توره او ګلابي اوزه ګورم چې په یوه ستره کښتۍ کې سفر کوي



زه یو شین او نسواري رنګه تمساح ګورم چې ما ته کټ کټ خاندي



زه یو تور او آسماني رنګه مار ګورم چې د کیک یوه ټوټه خوري



زه یوه سره او ژیړه چرګه ګورم چې په قلم لیکل کوي



زه یو تور او نارنجي پړانګ ګورم چې په اوبو کې ولاړ دی



زه په خپلو دوه تورو سترګو ټول رنګونه ګورم چې د الوتو په حال کې دي

# لارښودونکې پوښتنې

1. کوم رنګونه دي چې نجلۍ يې په خپلو سترګو ليدلای شي؟
2. په کيسه کې د کومو حيواناتو يادونه شوې ده؟ آيا تاسو دغه حيوانات پېژنئ؟ آيا تاسو له دغه حيواناتو څخه کوم يو ليدلی دی؟ چېرته؟
3. ستاسو د خوښې حيوان/ځاروی کوم يو دی؟ ولې؟
4. ستاسو د خوښې رنګ کوم يو دی؟
5. تاسو په طبيعت کې د خپلې خوښې رنګونه چېرته وينئ؟